# الله تعالی ته تر ټولو خوښ ځایونه جوماتونه او تر ټولو ناخوښ ځایونه بازارونه دي

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: «الله تعالی ته تر ټولو خوښ ځایونه جوماتونه او تر ټولو ناخوښ ځایونه بازارونه دي».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

نبي ﷺ خبر ورکړی چې الله تعالی ته تر ټولو خوښ ځایونه جوماتونه دي، ځکه چې د عبادت کورونه دي او بنسټ يې پر تقوا شوی دی، او تر ټولو ناخوښ ځایونه ورته بازارونه دي، ځکه چې غالبا د درغلۍ، سود، دروغو قسمونو، ژمنې ماتولو او د الله تعالی له ذکر څخه د بې پروا کېدلو ځایونه دي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee